# زما ای بي سي (ABC) (ابتدايي کچه)

| | |
|---|---|
| تشریح | زده کوونکي به په کټګوریو باندې د فکر کولو، د انځورونو د رسمولو او د یو غږ درلودونکو دوه تورو د ځېرلو له لارې خپل د الفبې (ABC) کتاب جوړوي! |
| لارښودونکې پوښتنه | آیا تاسي خپل د الفبې کتاب جوړولای شئ؟ |
| ټول اړین وخت | د ۲ اونیو په ترڅ کې ۱۰ ساعته |
| اړین توکي | کتابچه، پنسلونه، پنسل پاک او رنګونه |
| زده کړه ییزې لاسته راوړنې | • د سیاق او سباق له مخې او په جلاوالي کې د انګرېزي الفبې تورو کوچني او غټ شکلونه پېژندل<br>• چاپ/لیکنه او اړونده انځورونه پېژندل<br>• د انګرېزي الفبې باندي پوهېدل<br>• د ژوندیو او بې غیرژوندیو موجوداتو خصوصیتونو باندي پوهېدل<br>• د ساده کلمو لیکلو وړتیا درلودل<br>• د ساده هیسټوګرامونو (Histogram یعني د یوه متغییر د یو شمېر معلوماتي/اطلاعاتي نقطو د ویش تناوب د ځرګندولو لپاره کارول کېدونکي ګراف چې معمولاً مستطیلي شکلونه لري) د جوړولو وړتیا درلودل |
| پخوانی درس | نشته |

# لومړی ورځ

زده کوونکي به د یوه چا لپاره، چې د انګریزي الفبې زده کړي، خپل د الفبې کتاب د ډیزاینولو په هکله فکر کوي.

| پیشنهادي موده | فعالیت او تشریح |
|---|---|

| | |
|---|---|
| **۵ دقیقې** | زده کوونکي به د ماخذ په توګه د کتاب اخیستنې لپاره د الفبې یو کتاب ته مراجعه کوي په دې شرط که هغوی داسې کوم کتاب ته لاسرسی ولري یا دې لاندینیو خصوصیتونو ته غوږ ونیسي. د الفبې یو کتاب ډېر درسي واحدونه یا پاڼې لري په داسې حال کې چې د الفبې هر توري لپاره یوه پاڼه وي. آیا تاسې ته معلومه ده چې په الفبې کې څو توري دي؟ (۲۶ توري د انګرېزي الفبې کې) |
| **۵ دقیقې** | د عدد پېژندنې غځېدنه: له زده کوونکو سره په ګډه د الفبې د ټول تورو لیکلړ ترتیب او زده کوونکي نه غوښتنه وکړئ چې دغه توري وشمېري. |
| **۱۰ دقیقې** | په یوه درسي واحد کې باید څه شی شامل وي؟ اجازه ورکړئ چې زده کوونکي د ځینو مفکورو په اړه مغزي کارونه ترسره کړي، بیا ورسره لاندیني موارد شریک کړئ (د هر هغه څه په ګډون چې زده کوونکو یې په اړه ګډ مغزي فعالیت ترسره کړی دی): |
| | په هره درسي واحد کې،<br>• هر توری به د توري په غټه او وړه بڼه لیکل کېږي<br>• د شیانو به ۲ انځورونه وي چې په درسي واحد کې ورکړي توري څخه پیلېږي<br>• د شي نوم به دې ته څېرمه لیکل کېږي.<br><br>د بېلګې په ډول: Aa: Apple (ای: ایپل) یا Ant (اینټ)<br>یا<br>Bb: Banana (بنانا) یا Bird (برډ)<br><br><br><br><br>زده کوونکي به د هر توري لپاره په دوه کټګوریو فکر کوي چې بېلګې یې د څاروو نومونه او د خوراکي توکو نومونه دي. په یوه بل صورت کې، زده کوونکي د ژوندیو او غیرژوندیو موجوداتو په اړه هم فکر کولای شي. |
| **۱۰ دقیقې** | **د پوهې پراختیا:** زده کونکي د ای بي سي (ABC) کتاب کې رسمونو ته څېرمه د L یا ژ (**Living** یعنې ژوندي) / **NL** غ.ژ یا **NL** (**Non-Living** یعنې غیرژوندي) په لیکلو سره ژوندي او غیرژوندي موجودات په نښه کولای شي، لکه نیالګۍ، مېوه، ګل، څاروی، مارغه، کب یا خلک ژوندي موجودات دي – خو کالي، تکیې، مېز، کتاب غیرژوندي موجودات دي. هر هغه شی په ژوندیو موجوداتو کې راځي چې ساه اخلي، د تغذیې سرچینې ته اړتیا (خواړه او اوبه)، تکثر کوي (بچیان لري) او تېې کېدای شي. زده کوونکي هڅول کېدای شي چې ولیکي یاتشریح کړي چې څه شی د یوه شي د ژوندي کېدو یا غیرژوندي کېدو باندې دلالت کوي. |
| **۴۰ دقیقې** | زده کوونکي به په لومړۍ ورځ په ای (A)، بي (B)، سي (C) او ډي (D) پیل کولو سره په ۴ تورو کار کوي. |
| **۵ دقیقې** | د عدد پېژندنې پراختیا: (عددونه او الجبر) زده کوونکي به هر مخ ته شمېره ورکوي او عددونه/نمبرونه به په ترتیب سره لیکي. د زیات عمر زده کوونکو لپاره، هغوی کولای شي په بېلا بېلو رنګونو کې طاق او جفت عددونه په نښه کړي. |

| | |
|---|---|
| | هغوی په هر هکلمه کې د تورو تعداد هم شمېرلای شي. هغوی بیا د ۳ تورو، ۴ تورو، ۵ تورو، ۶ تورو او داسې نورو کلمو تعداد هم شمېرلای او د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره یو د متغیر لپاره د ارقامو/ارزښتونو د ثبت جدول جوړولای شي چې په یوه کلمه کې تر ټولو زیات کارول کېدونکو تورو تعداد څه دی؟<br><br>***سپارښتنه: والدین د زده کوونکو لپاره د کلمو د لیکلو لپاره یا د هغه تورو د لیکلو لپاره چې زده کوونکي یې تعقیبولای شي، د کرښو په رسمولو کې مرسته کولای شي. د زیات عمر زده کوونکو لپاره، هغوی کولای شي چې پخپله کلمې هجې/سپېل کړي.***<br><br>***سپارښتنه: زده کوونکي د انځورونو د رسمولو او عکس اخیستلو پر ځای انځورونه غوڅولای او نښلولای شي***<br><br>زده کوونکي د پېژندنې په موخه ۵ غبرګ توري (Vowels) په جلا جلا رنګونو لیکلای شي: ای (A)، ای (E)، آی (I)، او (O)، یو (U) |

## ۲ – ۵ ورځ

زده کوونکي به په یوه ورځ په ۵ تورو کار ترسره کوي.

| پیشنهادي موده | فعالیت او تشریح |
|---|---|
| **۵۰ دقیقې** | - په دویمه ورځ، هغوی په ای (E)، ایف (F)، جي (G)، ایچ (H)، آی (I) کار کوي [د غبرګو تورو په توګه ای (E) او آی (I) به په جلا رنګونو کې تر کار لاندې ونیول شي]<br>- په درېیمه ورځ، هغوی به په جې (J)، کې (K)، ایل (L)، ایم (M)، این (N) کار کوي.<br>- په څلورمه ورځ، هغوی به په او (O)، پي (P)، کیو (Q)، آر (R)، او ایس (S) کار کوي، [د غبرګ توري په توګه او (O) به په جلا رنګ کې تر کار لاندې ونیول شي]<br>- په پنځمه ورځ، هغوی به په ټي (T)، یو (U)، وي (V)، ډبلیو (W)، او ایکس (X) کار کوي [د غبرګ توري په توګه یو (U) به په جلا رنګ کې تر کار لاندې ونیول شي]<br><br>***سپارښتنه: والدین د زده کوونکو سره د کلمو د لیکلو لپاره یا د هغه تورو د لیکلو لپاره چې زده کوونکي یې تعقیبوي، د کرښو په رسمولو کې مرسته کولای شي.*** |

| | |
|---|---|
| **د عدد پېژندنې پراختیا:** (د معلوماتو کنټرول او اداره):<br>- زده کوونکي به د بېلا بېلو رنګونو د خوراکي توکو (یا و نورو توکو، که هغوی خوراکي توکي رسم نه کړل) تعداد د انځوریزو ګرافونو په بڼه رسم کړي. یادګیرنې:<br>  ○ ستاسې په الفبې کتاب کې څو داني خوراکي توکي ژیړ، شنه، سره، داسې نور رنګونه لري؟ شنه خوراکي توکي: پالک، بامیه او داسې نور. زده کوونکي به په پای کې ټول تعداد ولیکلي.<br>- زده کوونکي به ځمکه، اوبو یا هوا کې د اوسېدونکیو حیواناتو تعداد په اندازه انځوریز ګرافونه رسم کړي. یادګیرنې: ستاسې د الفبې کتاب څو ژوي په اوبو، هوا یا ځمکه کې اوسېږي؟ د ځمکې ژوي: زمری، سپی؛ د اوبو ژوي: کب، شارک کبان؛ د هوا ژوي: کارغه، چڼچنه او داسې نور. زده کوونکي به ټول تعداد په پای کې ولیکي.<br>- زده کوونکي به د هغه خوراکي توکو تعداد چې مېوې، سابه، لبنیات یا سپک خواړه دي، په انځوریزه بڼه رسم کړي (کټګورۍ باید د زده کوونکي د پوهې پر بنسټ وټاکل شي): ستاسې د الفبې کتاب څو خوراکي توکي مېوې، سابه، لبنیات یا نور سپک خواړه دي؟ مېوې: ځمکنې توتان، انګور؛ سابه: کچالو، ګاځرې؛ لبنیات: شیدې، مستې؛ نور سپک خواړه: سانډویچ، ماکاروني او داسې نور. زده کوونکي به ټول تعداد په پای کې ولیکي.<br>- زده کوونکي لاندینیو بېلګو باندې نظر اچولای شي: | **۱۵ دقیقې** |

| ټول تعداد | خوراکي توکي | | | رنګونه |
|---|---|---|---|---|
| ١ | | |  | شين |
| ٣ |  |  |  | سور |
| ١ | | |  | ژیړ |
| ٢ | |  |  | نارنجي |
| ١ | | |  | خړ |

| | |
|---|---|
| | **١٥ دقيقې** |
| | **٥ دقيقې** |

education above all | التعليم فوق الجميع

# شپېرمه ورځ

| پیشنهادي موده | فعالیت او تشرېح |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | زده کوونکي د الفبې وروستي دوه توري، Y او Z، بشپړوي |
| ۲۰ دقیقې | زده کوونکي به د خپل الفبې کتاب لپاره پښتۍ (مخپاڼه) ډيزاینوي.<br>- زده کوونکي به د کتاب د ""نوم" په اړه فکر کوي – چې هغه څه انځوروي د څه شي په اړه چې کتاب دی لکه زما د الفبې کتاب، زما ای بي سي او داسې نور.<br>- زده کوونکي به د کوچنیو لوستونکو لپاره د کتاب پښتۍ انځوروي چې د کتاب مقصد په ګوته کړي.<br>- زده کوونکي به د لیکوال او انځور ګر (خپل نوم لیکي. |
| ۱۰ دقیقې | زده کوونکي به خپل د الفبې بشپړ کتابونه له خپلو ملګرو او وړو ورونو او خویندو سره شریکوي |
| ۱۰ دقیقې | زده کوونکي به په ټولو نویو کلمو باندې چې دوی زده کړې دي، نظرونه شریکوي.<br>زده کوونکي به د انګریزي الفبې تورو د زده کولو لپاره له خپلو کوچنیو ورونو او خویندو یا د خپل ګاونډ وړو ماشومانو سره د مرستې لپاره خپل د الفبې کتاب څخه ګټه اخلي. د هغوی د تجربې پر بنسټ، زده کوونکي به د خپل الفبې کتاب کې د ښه والي لپاره بدلونونه راولي، چېرته چې اړین وي. |

education above all
التعليم فوق الجميع

## د ارزونې معيارونه

- زده کوونکي به د توري غټ او کوچني شکلونه کاروي (لکه Cc)
- زده کوونکي به د هرې کټګورۍ لپاره دوه کلمې چې په اړونده توري پیلېږي په ګوته او ولیکي یا ګوته وربانديې تېره کړي، بېلګه Cc: Cat او Cupcake یا (پیشو یا کوچنۍ کیک) – [انتقادي فکر]
- زده کوونکي د هغه کلمو چې دوی یې غوره کوي انځورونه رسموي او رنګوي
- زده کوونکي د هر مخ په ښخ کې د پاڼې ګڼه لیکي
- زده کوونکي خپل د الفبې کتاب پوره کوي.
- زده کوونکي په روانه ډول هجا کوي او په روښانه توګه لیکي
- زده کوونکي انځوریز ګرافونه جوړوي.

## د بډاینې اضافه فعالیتونه

- زده کوونکي نورې کټګورۍ اضافه کولای شي او د هر توري لپاره پر هجاګانو او اضافه کلمو بانديې تمرکز کولای شي
- زده کوونکي په خپل کتاب کې د هر شي په اړه د تشریح کولو لپاره یوه جمله یا یو څو کرښې لیکلای شي. د بېلګې په ډول: مڼه د سور رنګ درلودونکې مېوه ده. دا سالم خواړه دي چې تاسې یې هره ورځ خوړلای شئ او داسې نور. (له زیات عمر زده کوونکو څخه کله چې هغوی جمله لیکي، د یوه صفتي نوم، یو فعل، یا قید (adverb) د کارولو غوښتنه هم کېدای شي)
- زده کوونکي کولای شي ولسي کتابتونونه جوړ کړي چې په خپلو ټولنو کې به بشپړ شوي کتابونه د ګټه اخیستنې په موخه په پور ورکوي.

## د ساده کولو لپاره بدلونونه

- زده کوونکي د یوه توري لپاره یوازې په یوه کلمه کار کولای شي
- زده کوونکي د کلمو د انځورونو د رسمولو او رنګولو پر ځای عکسونه نښلولای شي
- زده کوونکي کولای شي په غږ پېژندنه (phonics) بانديې په پوهېدلو سره او له خپلې ژبې څخه د هغه کلمو په اضافه کولو سره پیل وکړي چې په پیل کې ورته یعني مشابه غږونه لري او بیا په انګریزي کې له نورو کلمو سره خپل کار ته ادامه ورکړي.